


بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان

www.said-afghani.org

آزاده، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !


## د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغانی » ليکنه

د نشر نېټه : 20 می 2017 م

# د پوه کولو د پاره څه بايد وشی ؟

د خلکو پوه کول کوم آسان کار نه دی. علم ديته نه وائی چه هرڅه ياد کړی شي او سړی هرڅه وويلی شی .
عالم ديته نه وائی چه د تخصص کومه پاڼه ولری او يا د شرق او غرب کومی فاکولتی او يا اکادمی ته منسوب وی .
د سياح اوعالم په مينځ کښی هم فرق شته ، مونږ ځکه خلک نشو پوه کولی چه د خلکو د ذهنيت اندازه نشو سنجولی .
ډير دغټ تاسف خبره دلته دا ده چه مونږ اکثرآ د خلکو د لياقت اندازه د جامو په برش او طول او عرض کښی او يا د نور فيشن او سينګار په اندازه کښی سنجوو؛ او مونږ سره دا عقيده نشته چه ګوندی په نادارو خلکو کښی به هم چيرته داسی پوه خلک وي چه د بشر د پوره سعادت د پاره د فلاح او رستګاری افکار ولری .

د انسان د پوه کولو چاره داسی نه ده او نه د نجات وسايل دا دی چه مونږ سم دستی په کار واچوي.
مونږ اکثرهغه يادوو چه زمونږ په کار نه راځی ، مونږ په يو شاګرد باندی دیادولو دومره ذهني فشار راولو چه هرڅه تری هيرېږی .
مونږ اکثرآ نه د استاد په څه پوهيږی او نه هم د شاګرد ؛ او نه مونږ په دی پوهيږو چه استاد او شاګرد دواړه په غلط رسم دی. ښه نو چاره څه ده او څه بايد وشي ؟
که ووايم چه زما سره د دغه رنګه اصلاحاتو د پاره قدرت نشته ، نو ځکه زه دومره عملاً څه نشم کولی چه پوره په درد و خوري .
دا دروغ نه ده ! ربښتيا څه وکړم چه څه نشم کولی ؛ هغو مره چه خلکو د پوه کولو دپاره درد لرم ، هغومره راسره چاره نشته.
او که دا ووايم : چه زه په قلم او ژبی سره هم څه نشم ويلی او ليکلی ؛ دا به زما د جرئت کمزورتيا وی. البته در جرئت سره بايد دومره مجادله ونشی چه اصلاحي جرئت اندازه هم خرابه کړی .

زه باید بار بار ووایم او وی لیکم چه د خلکو دیوه کولو او تربیی د پاره د خلکو د ضروري او لازمي احتیاجات په دقیق ډول سره وسنجول شي او بیا په همغه توازن سره ، اساسی تدابیر ونیول شي .

زه باید ووایم چه د کار خلکو ته ، د کار زمینه او شرایط مساعده شي !
دا ځکه چه په وطن کښی د کاراو د مغز خلک؛ د وطن د سرمایی مثال لري . که دغه سرمایه عاطله او باطله غورځوو او یا ئی په سین کښی لاهو کوو؛ حتمآ مونږ د فلاکت ، بدبختي او ناداریی سره مخامخ کیږو.

مونږ ټول باید په دی پوه شو چه هریو په خپله اندازه د وطن او دخلکو په مقابل کښی مسوولیت لروو . که مونږ ځوک مسوول ګڼی باید زمونږ په خبرو هم ځان پوه کړی چه مونږ څه غواړو و یا مونږ سره د اصلاحاتو او د خیر خواهي ذهنیت شته او که نه ؟

د عیاشي موضوع نن سبا د زیاتی پام لرنی او اهمیت مقام نیولی که مونږ خلک په دی پوه کړو چه هرڅه اندازه لری او عیاشي ته هم باید د خپلی اندازی نه تجاوز ورنه کړو دا به د دغه بی وزلو او نادارو خلکو د بهبود د پاره غټ خدمت وي .
ولی ؛ افسوس باید ووایم چه : « زمونږ ځینی عیاش خلک ؛ د عیاشي کارونه هم په خدمت کښی حسابوي .»

***

سعید افغاني

د سرطان میاشت ، د ۱۳۳۷ هجري شمسي کال ـ ننګرهار

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی »

www.said-afghani.org - بازگشت به صفحه اصلی